مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: اقبال انصاري

ژباړونکی: دوکتورعبدالخالق رشید ۲۰۲۲/۰۷/۱۹

وروستی پټآن

د جهانسي جنګیالی ملکه او ورسره مل پښتانه جنګیالي

(تاریخي ناول)

دریمه برخه

لیکوال :

اقبال انصاري

ژباړونکی :

دوکتورعبدالخالق رشید

نوی ډیلی : ۲۰۰۲ کال

ډالۍ

دهغوپښتنواومسلمانواتلانوپه نامه چي دهند دآزادۍ پرلامل یی په ۱۸۵۷ کي لویي کارنامي دهندوستان تاریخ ته پریښودي چي اوس یي یاد یوازې په کیسواوحماسوکي ژوندکوي !

پروفیسور رشید

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ



(۴)

رانۍ په حیرانۍ دخدمتګارۍ پرلور وکتل اوورته ویې ویل :
ـ رایې وله او په میلمستون کې یې کینوه.
خدمتګاره لاړه ، رانۍ راپورته شوه، له خپل پالنګه یې شال راپورته کړ، پراوږویې واچاوه ، له خپلې کوټې راووته اوهغې بلې کوټې ته لاړه. رانۍ په دغه کوټه کې له خپلو خاصو دوستانواوړوندانو سره لیدنې کتنې کولې، لوړچت لرونکی او له چت سره لګیدلی ډیوټ والا کوټه وه داسې چې هغې ته د ننوتوله دروازې سره تړلی یودالان هم و ، کینې خواته یوه بله دروازه وه چې هغه دباغچې پرلورپرانستې وه ، هلته چې رانۍ به له خپلو سهیلو اوخورلنو سره ګرزیده، په دغه باغچه کې یوپراخ چمن هم وچې هغه به تل زرغون و، دګلانو بڼ هم دلته و چې موسمې ګلان به تل په کې غوړیدلې وو.
ګل محمد په میلمستون کې یوې خواته په ادب سره ولاړو، خوهغه یوازې نه و، بهاوبخشي اوجواهرسینګ هم هلته له ګل محمد سره ولاړ ول. بهاوبخشي او جواهرسینګ دواړو خپل لاسونه سره غبرګ ، دملاپه ټیټولوسره یې رانۍ ته خپل درناوی څرګند کړ، ګل محمد هم په خپل شان دښې مټ په دری ځلې ټیټولو سره سلام وکړ، لکشمي بایې که څه هم په نامه رانۍ وه ، له هغې سره نه کوم ځواك و او نه هم کوم واك، خو دجهانسۍ والو له پاره هغه دجهانسي رانۍ وه، دجهانسي پرخاوره باندې که څه هم دا واکمنه نه وه، خو دجهانسي پرزړونو باندې ددې واکمنې وه. دهغې دوستانواو ملګروهم دا فکرنه کاوه چې هغه ملکه نه ده، همداوجه وه چې هغوی به که دورځې لس ځلې هم دې ته راتلل نوپه هغه شان به یې سلام ورته کاوه لکه چې یوه واکمن او راجاته به کیده .
ـ کینئ ، تاسې آرام کینئ .
رانۍ په دې خبرې سره لویولویوآرامۍ ببنوونکومیړوته اشاره وکړه او خپله پرلویه ډډواله څوکۍ باندې کیناسته پرهغې چې دنارنجي بخمل شال هم غوړیدلی و.
دری واړه کیناستل ،
رانۍ په دې فکرکې وه چې دې ته خویوازې دګل محمد دراتګ خبر راغلی وخواوس بهاوبخشي اوجواهرسینګ څنګه دلته رابښکاره شول؟ ... ښایې دګل محمد له راتګه وروسته هغوی هم راغلي وي ...
په هرحال اوس دې دغو دری واړوته په پوښتنیزو سترګو سره وکتل ،
بهاوبخشي په نیولې آوازسره وویل :
ـ مهارانۍ جي ، ایلس خپل انګریزي بندوبست پیل کړی دی.
رانۍ وویل :
ـ که یې نه وای پیل کړی نوماته به دحیرانۍ خبره وه .
دهغې غږ اوس له جذباتو ګردسره خالي شوی و، ځکه یې بیا وویل :
ـ څه شان بندوبست یې کړی دی؟
جواهرسینګ واردمخه کړ :

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ ددیوان اودفترکلی یې اخستې دي، ټول کاغذونویې راسپړلې اورااېستلې دي اود ټولوکاغذو په لوستلو باندې یې خپل کسان ګمارلې دي. هو، خپل ټول کسان، هغوی چې په فارسي او اردو باندې پوهیږي.
رانې لکه چې له ځانه پوښتنه کوي :
ـ په کاغذونوکې به څه شی په لاس ورشي ؟
جواهرسنګ:
ـ څه خوبه په لاس ورنه شي ... هغوی په کاغذونوباندې ددې له پاره نه دي اخته چې څه ومومي بلکې دهغوی موخه داده چې جهانسي والواو ګردوهندوستانیانو ته وښیي چې نورنو پرجهانسي باندې دمهارانې جي واکمني نه بلکې دانګریزي کمپنۍ واکمني واکمنه ده.
ـ رښتیاوایي، رانې یوسوړ اسویلی وکیښ او ویې ویل : ددوی په سرو او سپینوڅیرو باندې دداراوغم سیوري څپې وهي، په غټوغټو توروسترګو...په دې کې درواغ څه دي؟
پرجهانسي باندې په رښتني توګه دکمپنۍ واکمني ده، پروني سوداګر دنن واکمنان دي، ګرم موږ خپله یو... موږ ټول ... که موږ هندستاني په خپلو کې نه سره جنګیدای، موږسره یوموټی وای ، او موږ لږ له پوهې کاراخیستی وای نونن به مودغه ورځ نه لیده. موږ هندوستانیانو ته مستیو، عیش وعشرت ، خپلمنځي جګړو او دښمنیو کله هم وخت رانه کړ، اکبر لویه واکمني جوړه کړه، له کشمیره تر کنیاکوماري یونیکمرغه، اولوی هندوستان په خپل بې ساري او بې جوړې شته والي سره ټوټې ټوټې کړشو...دهرې ټوټې واکمن یوازې دخپل ځان اوخپل عیش وعشرت په فکراو خیال کې ډوب شو چې پایله یې نن زموږ په مخ کې ده. موږ غلامان شو او دغلامۍ دالمرڅرك ډیراوږد وي، زه داویلای شم چې زموږپه منځ کې نه یوالی شته اونه مشرتوب... خیر، وبه ګورو چې ایلس نوردلته څه کوي ؟
جواهرسینګ وویل :
ـ په تاني کې یې خپل کسان کینولې دي ... ټول هندوستاني سپاهیان، کوچني ضابطان او لوې ضابطان دیوه انګریزي اس پې ترقوماندې لاندې دي، ټولې پریکړې انګریزاس پې اوانګریز دي اس پې کوي ، ټول ضابطان او واړه ضابطان دخپلومریيانو په شان کاروي.
رانې بیا له یوه ساړه اسویلې سره وویل :
ـ کله چې دخپلو هیوادوالو دغه حالت ته سړی ګوري خواشینی کیږي ، موږ په خپله خاوره اوترخپل آسمان لاندې دپردیوغلامان یو... هو، خو ګنا دنورو نه ده ... ملامت موږ خپله یو.
بهاوبخشي ته وار ورغی :
ـ په ټول هیواد کې جاروهل کیږي اوددې له پاره چغې روانې دي چې جهانسي دانګریزي حکومت برخه ده ، دلته اوس یوازې دکمپنۍ بهادر حکم چلیږي، دکمپنۍ بهادر جوړکړی قانون چلیږي، دهغه دحکمواوقوانینو نه منونکوته به سخته سزا ورکول کیږي...
رانې په خورا درد او دوك سره خبره ورغبرګه کړه :
ـ بهاوه ، موږ کمزوري یواو داکمزوري موخپله دځان په برخه کړې ده، همداده چې دغلامۍ سره غاړه غړۍ شوې یو، کمزوری سړي له ماتې څخه نه شي بچ کیدای، غلامي دکمزوري ملت برخلیك شوې، موږ خواره واره شوي یو، دغه خواره واره والي کمزوري راته زیږولې او کمزورۍ بیا غلامي راد غاړې کړې ده .
ګل محمد په دغه ترڅ کې دلومړي ځل له پاره خوله پرانیسته :
ـ خوزموږ دکمزورۍ سبب هم دغه مکارانګریزشوچې له هغه یې ګټه پورته کړه.
رانې دده خبره ورسره ومنله اوویې ویل:
ـ ګل محمد خانه ستا خبره سمه ده ، خواصلي خبره بیاهم کمزوري ده، چې موږ خپله دهغې مسوول یو، پوښتنه داده چې اوس هم موږ څنګه ویښیدای شو؟ نن هم موږ په دې رښتیا پوهیدای شوچې موږ په رښتیاهم کمزوري یو؟ که موږ په دغه ټکي پوه وو اوپه دې باید فکروکړو چې موږ په څه شان دغه کمزوري لرې کولای شو... لږترلږه دم ګړۍ ماته دغه ټکی نه ترسترګوکیږي. لکنهودی که بنارس ، میرتهه دی که ډیلی، بټهوردی اوکه کانپور، ارني دی که کالپي ، دتیاده که ګوالیار، مورینادہ اوکه بهنډ ... داټول سره شلیدلي او ټول په خپل راګ ورنګ کې مست دي، دغه ویشون اودغه بیلتون چې خپله په ښارو کې دبربادۍ نښې له ځان سره لري نوپه کلیواو باندو کې به لاڅه حال وي؟
جواهرسینګ وویل :
ـ همداپرون پرون انګریزټولوولسوالیوته خپل تحصلداران استولي، اوریدلې مې دي چې دنورو ډلو له پاره هم سختې هلې ځلې روانې دي چې زربه هلته ځای پرځای اوواستول شي، دم ګړۍ خوپه هره ولسوالۍ کې دانګریزحکم قانون دی.
ګل محمد په خپل درانه او سنجیدلي غږ سره وویل :
ـ مهارانې صاحبې ... که اجازه وي ستاسې دغه خدمتګارهم یوڅه ویل غواړي ...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ وایه وایه گل محمده ... خو دا یوه خبره واواره چې ته زما خدمتګار نه یې ، زما ملګریې داسې لکه چې دانورزما ملګري دي ... وایه څه وایې ؟
ـ زما خبره داده رانې صاحبې ، تاسې باید پنځه زره روپۍ دپنشن په توګه ومنې ... سلا داده ...موږ پوهیږو چې ملعوني فرنګی دغه روپۍ هم تاسې ته داوږدي مودې له پاره نه درکوي ، خواوس که ته له هغو انکار وکړې هغوی دا پلمه نیسي او په دغه پلمه کیدای شي نورظلمونه ترسره کړي ...
ـ ګل محمده ستاداخبره سمه ده، ماهم ددې خبرې په باره کې ډیرفکرکړی اودغې پایلې ته رسیدلې یم چې ما په دغه برخه کې له بیړې او احساساتو څخه کارواخیست، زما له پاره په دغه برخه کې انکاراړینه تګلاره نه وه. څنګه شوې وای، په ذهن کې راتیره شوه اوانکارمې ترخولې راووت ...له ما یوه تیروتنه بله هم وشوه ، هغه داچې ما باید نه وای ویلې چې زه خپله جهانسي نه ورکوم، اوس دا دی ایلس په بیړه په دې لټه کې دی چې موږ نورهم له پښووغورځوي ، هغه به پوره هڅه وکړي چې زموږ دپیاوړتیا او ځواکمن کیدو پوره مخه ونیسي اوپه دې توګه به زه کله هم ونه توانیږم چې دانګریزانو دمقابلې ډګرته وروړاندې شم.

دګل محمد غږبیا له کړچیدلې زامې راووت :
ـ مهارانۍ صاحبې ، داهڅه اوداکوشش هغوی پیل کړی دی.
دګل محمد په وینا کې یوڅه داسې وو چې رانۍ یې سره حیرانه کړه ځکه یې سترګې په هغه کې خښې نیولې وې ، هغه څه پوښتل غوښتل اوهم یې څه ویل ، خوخدای خبر چې هغه خپله وینا ولې بدله کړه او بهاوبخشې ته یې ووې :
ـ زموږ دملت همت او زغم ؟
بهاوبخشې سوړ اسویلی ویوست او ویې ویل :
ـ هو، په عامه توګه یوڅه رالویدلې دي ، خودابایدووایو چې خلك دانګریزانو دښمن دي... هغوی نن هم ستادي ... هغوی نن هم وږي تږي ستا په یوه آواز باندې له کورونو راوځي، دجهانسي بچی بچې تاته وفادار دی او ستا سربښندونکی .
دګل زامې نورې هم سره وکړچیدې ...
رانۍ دګل محمد ځیرې ته وکتل ، بیا یې په بیړه جواهر سینګ او بهاوبخشې ته وویل :
ـ دخلکو همت او اراده او دهغوی دزغمتیا ماتول نه غواړو ... خوله دې سره سره داسې هم باید ونه شي چې هغوی باید په ستونزو وروړوو. خکه چې که داکار وشي نوانګریز به په هیڅ ډول پردوی باندې رحم ونه کړي بلکې له سختې سزاسره به یې مخامخ کړي، په تیره نن سبا چې قانون هم دهغوی دی او واك او ځواك هم له دوی سره دی.
جواهرسینګ وپوښتل:
ـ مهارانۍ جې ! پوښتنه داده چې موږ څه وکړو ؟
رانۍ ورته وویل :
ـ له انګریزانو څخه دوسلې اخیستلو له پاره پټ تیاری او دمناسب وخت له پاره انتظار، ددغه کار له پاره ترټولو اړینه خبره داده چې دخلکو روحیه او همت لوړوساتو.... داهم واورئ چې انګریز پاچاهي رانسکورولای شي، خودخلکو مخه کله هم نه شي نیولای ، په خلکو زوراچولی شي، هغوی ترپښولاندې کولای شي، هغوی به پټه خوله کړي ، خویوازې دیوې لنډې مودې له پاره ، نه دتل له پاره ... په دې چې خلك تلپاتې دي، خلك نه شي ختمولای ، همداده چې دخلکو روحیه باید لوړه وساتل شي... که دهغوی روحیه اوچته وي نوپه دې کې شك نشته چې یوه ورځ به بری هم دهغوی وي.
جواهرسینګ وویل :
ـ مهارانۍ جې ! هو، موږ به وګورو چې دخلکو روحیه او زغم باید لوړوساتو.
او رانۍ ودریده ،
هغوی دری واړه هم ودریدل،
او غونډه پای ته ورسیده .
هغوی دری واړه هم په سوچ سوچ کې دخپلو استوګنځیوپرلور وخوځیدل ، رانۍ هم خپلې خونې ته راغله پرخپل پالنګ یې ډډه واچوله،سترګې یې پټې کړې او دګل محمد په باره کې یې سوچ کاوه :
ـ هغه ولې راغی ؟ دده دچوپې خولې پاتې کیدو ترشا یوڅه وو؟ دکومې خبرې له پاره راغی چې هغه یې ونه شوای ویلای . دوفاداری په خبره دهغه ځیره ولې غونجه منجه شوه ؟ نژدې نیم ساعت هغه دهمدغو پوښتنو له پاره دځوابونو په لټه کې سره اوښته اوراوښته ، ترڅوچې یې په پای کې پرخدمتګارې باندې ږغ وکړ:
ـ ولاړه شه او ګل محمد له خپلې چونۍ راوله !
خدمتګاره ولاړه .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو رانۍ یوځل بیا په یوه ژور سوچ کې ولاړه ، اصلي خبره داوه چې هغې زیات فکرکاوه اوزیاته دچا خبره فکرمنه وه، هغه په دې ښه پوهیده چې انګریزخورامکار قام دی ... فتنې جوړونکی دئ... او هندوستانیان ساده دي. همداده چې اوس دم ګړۍ خودهیلو اوامیدونو رڼا یوې خواته هم نه ترسترګو کیږي.
داحال یوازې پرجهانسي نه و، بلکه دګرد هندوستان راتلونکې همداسې تیاره ښکاریده ، هغه پوهیده چې له ملکه دانګریزانو ایستل ددغوخورو ورو هندوستانیانو له پاره ډیره ګرانه خبره ده . همداده چې سړی ویلای شي چې داخبره کومه دنن اوسبا خبره هم نه ده.
پنخلس دقیقې وروسته خدمتګارې دګل محمد دراتګ غږ وکړ،
رانۍ راپورته شوه ، خپل شال یې پر اوږو راواچاوه ، له خپلې کوټې راووته او میلمستون ته راغله، ګل محمد بیاخپل لاسونه تړلې سره نیولي وو اود مځکې پرلوریې کتل ، کله چې رانۍ راننوته ده په خپل ځانګړې ډول هغې ته خپله سلامي وکړه :
رانۍ پر خپله څوکۍ کیناسته اوګل محمد ته یې وویل :
- ګل محمده کینه !
ګل محمد پرخپله څوکۍ باندې کیناست او وېې ویل :
- ډیره مننه مهارانۍ صاحبې . حکم !
رانۍ ورته وویل :
- ته همدا اوس څوشیبې دمخه دلته راغلی وې؟
- هو مهارانۍ صاحبې ،
ګل محمد دا خبره په خورا ادب سره وکړه .
رانۍ بیرته پوښتنه ترې وکړه :
- یوازې راغلی وې او که له بهاوبخشي او جواهرسینګ سره ؟
ګل محمد ځواب ورکړ :
- زه یوازې راغلی وم ، بهاوصاحب او جواهرسینګ وروسته راغلل، دلته موږ سره یوځای شو.
رانۍ هغه ته په ځیرسره وکتل او پوښتنه یې ترې وکړه :
- ته دکوم اړین کار له پاره راغلی وې؟
ګل په داسې حال کې چې خپل حیاناك کاته یې په خپل حال ساتلي وو ورته وویل:
- هو، مهارانۍ صاحبې !
رانۍ دزړه له کومې ورته ځیرشوه :
- څه اړین کار و؟
ګل په نرم آواز سره ورته وویل :
دمهارانۍ له ژوند او سلامتۍ، دجهانسي له سلامتۍ اودهندوستان له سلامتۍ څخه زیات اړین کار څه کیدای شي؟
رانۍ بیاپه نرم آوازسره وویل :
- خبره دې سپینه وکړه !
- مهارانۍ صاحبې ... زماخیال ته راځي ... خدای دوکړي چې زما خیال غلط وي ... دشیطان مردود غوږونه دې کانه وي ... زما خیال داسې دی چې جهانسي والا ټول تاته وفادارنه دي ... دجهانسي خبره پرېږده په خپله په کلاکې هم ټول تاته و فاداردي؟ ...زما خو په دغو باندې شك دئ ... یوڅه راروان دي ، پرکلا باندې څه راتلونکي دي ... اود ګل محمد کاته لاهم پر زمکې باندې پراته وو.
- رانۍ په لیوالتیا سره پوښتنه وکړه :
- څه رادرومي ، څه راروان دي، زما په یاد دي همدا اوس لږ دمخه چې کله بهاوبخشي وویل چې دجهانسي بچې بچې تاته وفاداراوستا سرښندونکی ، ستا له ځیرې څخه دابښکاریده چې ګواکې په دغه خبره باندې ستاشك دی... اخر ستا په زړه کې څه دي ؟ او ته څه محسوسوې ؟
- زه اوس نه شم ویلای ، محسوس کولای شم ... چې څه راتلونکي دي.
دګل محمد د زړه خواشیني څرګنده وه ځکه یې په زړه کې ورتیره شوه:
- یوهیله بله ویلای شم،
رانۍ په ځیرځیر ورته وکتل :
هو، وایه !
- مهارانۍ صاحبې ! د زړه خبره... ، د ارادې خبره... ، دمنصوبې خبره دې یوازې له خپلو خاصو کسانو سره کوه... ځکه چې نه وخت سم دی اونه هم حالات .
دڅه ناڅه دوودقیقو له پاره دهغو دواړو ترمنځ آرامې خوره وه په دغه ګرده شیبه کې ګل محمد خپلې سترګې په ځمکه کې خښې کړې وې او رانۍ بیا خپلې سترګې په ګل محمدکې ، ترڅو چې رانۍ وویل:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ ستا پرچا شك راځي ؟
ګل محمد دځواب ورکولو پرځای له ځایه پورته شو، په خوله یي لاس ونیو اورانۍ ته یي دآرامۍ اشاره وکړه، خپله پرته له دې چې خپل غږ له خولې راوباسي ددروازې په لورروان شو، هغه خوا او داخوايي ځاروکړاو له دروازې دباندې ووت .
ځوشیبې وروسته رانۍ یوه ښځینه چغه واوریده ، تلولۍ شوه، او له خپلې ځوکۍ ځخه پورته شوه ، په همدغه وخت کې ګل محمد هغه خدمتګاره تروښتو رانیولې دننه راوسته ، هغې چې دی یې رانۍ ته رابللی و. ددرد اوخواشینۍ په دغه شیبه کې دخدمتګارې له خولې بې اندوله نارې او چغې راوتې .
رانۍ په دغه شیبه کې هم کله خدمتګارې او کله هم ګل محمد ته حیران دریان کتل .
ګل محمد چې خدمتګاره تروښتو رانیولې وه په زورسره یې داسې تیله کړه چې هلته مخامخ درانۍ په پښوکې ورولویده.
ګل محمد درانۍ په قدمو کې لویدلې خدمتګارې ته په قهر جنو سترګو سره کتل او ترخوله یې راووتل :
ـ اوس ځرګنده شوه چې دی تردروازه دباندې زما اوستاخبرو ته غوږ نیولی و، ددې کارمقصد څه و؟ دچا په اشارې دې ستا جاسوسۍ ته ملاتړلې .؟
رانۍ په خدمتګاره حکم وکړ :
ـ لاری ؟ پورته شه ودریږه !
خد متګارې خپل دواړه لاسونه درانۍ ترپښوراتا ونیولې وو اوچغې یې وهلې :
ـ مهارانۍ جې ما وبښئ ،
خورانۍ یې لاسونه بیرته سره ووهل او په قهرسره یې ورته وویل :
ـ زما له پښودې داککړ لاسونه لرې کړه ، بدکارې، داپښې مندرته ځې او ته هغه په خپلو لاسو سره ککړوې، ورکه شه پورته شه!
خدمتګارې دهغې پښې نه پرېښودې او خپل تندی یې پرهغو باندې موښه،دهغې له خولې ناپیلې، ناځرګندې او ګډوډې خبرې راوتې ، رانۍ دخپلو پښو دخلاصولو هڅه وکړه خوهغې لکه دژورې په شان همداسې ځتلې، رانۍ یې ناچاره کړه ځکه یې پر ګل محمد غږ وکړ :
ـ ګل محمده دادرپورته کړه !
ګل محمد وروړاندې شو، یوځل بیا یې دخدمتګارې ویښته په خاورو سره ولړل ... او بیاپې هغه دیوې دردونکې چغې په ځپوکې له هغه ځایه راپورته کړه ، دهغې ځیره سپینه تښتیدلې وه او ټول بدن یې پرله پسې لړزې ړپاوه ، ګل محمد دهغې مخ دځان پرخواکړ، د هغې په سرو سترګو کې یې خپلې وینوغوندې سرې سترګې ولیدې او په تندې ژبې سره یې ورته وویل :
ـ بدذاتې اوس دا چل ول بند کړه .... څه چې دې کړې او یا دځه موندلې هغه مهارانۍ صاحبې ته ووایه اوکه نه ستا بدن به په خپلو پټانو ګوتو سره ریښې ریښې کړم . زما نوم ګل محمد خان دی هودجابرخان زوی ، موږ دداسې غدارانو په وړاندې رحم نه پیژنو او نه اهمیت ورکوو... شیطانې خبره دې کوه !
داسې ښکاریده چې خدمتګارې خپل حواس په پوره توګه له لاسه ورکړې وو ، دهغې ځیره زیږیده او زیږیده ، هغه بې حاله شوې وه خو لا رالویدلې نه وه.
خوکله یې چې ځان په حق وسپاره بیانوپه هم هغه ځای کې راولویده.
داځکه چې له روشن دانه راچلیدلې ګولۍ نیغه دهغې په زړه باندې لګیدلې وه.

(۵)

دخدمتګارې دلارې خبره همداسې په رازکې پاتې شوه، اودا معلومه نه شوه چې هغې دچا له پاره کارکاوه ، دچا په خبره یې دچا له پاره جاسوسې کوله او دځه له پاره یې کوله؟
او ګل محمد چغې کړې :
ـ مهارانۍ صاحبې ! له دیوال سره ځان ولګوه اوپر یوه خواشه ...
هغه ددیوال هغې خواته اشاره وکړه هغه ځای ته، هغه ځراغ ځای ته چې چا ګولۍ راچلولې وه او خدمتګاره یې مخکې له دې چې خوله پرانیزي وویشتله.
رانۍ خپل بانه سره وخوځول اوله دیوال سره سمه یوې خواته ودریده ، غاړه یې تاوکړه او دروشن دان یاځراغ ځای پرلوریې وکتل، ګل محمد لکه دپرانګ په شان ټوپ کړاو په چټکۍ سره له کوټې ووت ، دکلا ټولواوسیدونکوهغه ولید،چې په ځومره چټکۍ سره هغه پورته وخوت.
ټول بام خالي و،
تردیرو پورې هغه کوشش وکا چې هلته دیوچا پته ولګوي خوځه یې ترلاسه نه کړل او بیرته راکوزشو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شیبي وروسته بیا پرهغه چا پسې لټه پیل شوه چې تومانچه یې په لاس کې وه اودبام پرلورختلی و . خو هیچا ته هم څرګنده نه شوه چې هغه څوك و، ځکه باران اوریده اوهیڅوك دباندې نه وو، څه ناڅه یوه ګړۍ وروسته جواهرسینګ، رګهونات سینګ ، دولهاجو، پیرعلي، غلام غوث خان، زمان خان ، خدابخش، سندر، مندر، کاشي بابي اوګل محمد درانۍ په میلمستون کې سره راټول شول.دټولو په څیرو باندې دخواشینۍ نښې او څپې له ورایه څرګندې وې.
په همدغه حال کې په ناڅاپي توګه درانۍ آوازپه میلمستون کې په انګازو شو:
ـ داڅه روان دي ، داڅه حال دی ؟ نن زما باورونه ګرده پای ته ورسیدل، زه خوپه دې کې وم اوپه دې مې باورو چې دجهانسي یوتن به هم دغدارۍ لاره ونه نیسي ،خو نن چې څه وشول هغه دادي ستاسې په مخکې دي. که ګل محمد شکي شوی نه وای اود خپل شك په پلمه له کوټې دباندې نه وای راوتلای نوبیابه داپته هم نه وه اونه به څوك پوهیدل چې زما پرخلاف دلته جاسوسي روانه ده. نه پوهیږم چې څومره خبرې ، څومره رازونه له محله دباندې استول شوي دي. راشئ ووایئ چې دلاري بابي دچاله پاره جاسوسي کوله؟ هغه څوك وچې پرهغې یې ګولۍ واورولې ؟ داپه خپله دابښیی چې په محل کې پوره یوجال خورشوی دی او موږ ګرد په کې راګیریو.
کنورجواهرسنګ وویل :
ـ مهارانۍ جي! زه به ګناهګار ډیرزر ستامخې ته ودروم ، خو په دغه اړه زه یوه خبره کولای شم ؟
رانۍ ورته وویل :
ـ ووایه !
ـ دمحل او ستا دساتنې چارې باید ګل محمد ته وروسپارل شي،هغه په دې اړه ډیرځیرك دی او تل دتیارې په حال کې هم وي.
رګهونات سینګ وویل :
ـ زه دکنور جواهر سینګ وړاندیزمنم او ورسره متفق یم.
رانۍ له یوڅه سوچه وروسته وویل :
ـ سمه ده ، دمحل دساتنې ذمه وارې له ننه څه چې له همدې شیبې وروسته دګل محمد پرغاړه ده. هغه چې څنګه کولای شي او څنګه غواړي په هغه شان دې د محل دساتنې اوامنیت کارپرمخ بوځي. دهغه سړي اوهغو خلکو چې جاسوسي کوي په نښه او رسواکول ستاسې ټولوکاردی، تاسې ټول تلای شئ ، یوازې ته پاتې شه ، ته کنورګل محمده ! هو له ننه وروسته موږ تا کنورګل محمد بولواوپه دغه لقب دې یادوو.
ټولو یوه پربل پسې په خپل خپل ډول رانۍ ته درناوي وکړل او له هغه ځایه ووتل.
ـ اوګل محمد هلته پاتې شو.
دټولو له وتلو وروسته ګل محمد ودرید اولکه چې عادت یې وخپل لاسونه یې تړلې نیولې وو او ویې ویل :
ـ مهارانۍ صاحبې ! ته ډیره مهربانه یې ، لویه یې، پاك الله دې تاتر قیامته جوړه اوسلامته وساتي، رانۍ خپل دغه وفاداردوست ته په درنښت سره وکتل اوویې ویل :
ـ کینه .مهرباني وکړه !
ـ ډیره زیاته مننه ، مهارانۍ صاحبې .
او ګل محمد کیناست.
ـ تاڅه ویل کنورګل محمده ... یوڅه روان دي ... ته کوم څه محسوسوې ؟
ـ هو، مهارانۍ صاحبې،څه چې روان دي اوڅه چې زه محسوسوم هغه ستا په مخکې دي،موږ دلته جاسوسي اوغداري محسوسوو.
رانۍ په آرامۍ سره وویل :
ـ خبره دې سپینه وکړه !
ـ له موږ سره تراوسه دچادغدارۍ ثبوت نشته،مهارانۍ صاحبې کیدای شي په دغه اړه زموږ سوچ غلط وخیژي ، یوازې دوه تنه داسې دي چې ماته سم نه ښکاري ، په دې چې دادوه تنه ولې له کلا څخه دباندې ژوند کوي؟ چیرې ځي، له چاسره ګوري . ولې ګوري ؟ موږ به دخپل شك دلرې کولو له پاره کاروکړو،هوخامخابه یې وکړو.
درانۍ له خولې په آرامۍ سره سمدلاسه راووتل :
ـ دادوه کسان څوك دي؟
ګل محمد هم په هماغه شان په چوپه خوله ځواب ورکړ:
ـ دیوان دلها جواو پاناشاه .
رانۍ په سوچ کې شوه ، ډیرې شیبې همداسې آرامه پاتې وه خووروسته یې وویل :
ـ ته په دې اړه خپل معلومات بشپړ کړه ... خو زما باورنه کیږي ځکه چې دا دواړه دارواښاد راجا صاحب دباورور کسان وو.

پاتې لري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ